دمجاهدینو ونډه د ... شهادت ده
چهارصفحه
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
نمبرمسلسل(۱۲۳۰) سال نزدهم شماره (۳۹) یکشنبه (۸) میزان ۱۳۷۵هـ.ش. (۱۷) جمادی الاول ۱۴۱۷هـ.ق (۲۹) سپتمبر ۱۹۹۶م

الهی لارښوونی

دغه کسان چي (دمحمدي رسالت له منلوته يې) انکار کړي دي وايي : « پردغه سړي باندي ده درب له لوري کومه نښانه ولې نازله نشوه » ووايه ، دالله چي چاته خوښه شي گمراه کوي يې اوهغه خپل لوري ته دورتگ لاره هماغه چاته ښيي چي هغه لوري ته وروگرځي ،همدغسي خلك دي هغه کسان چي هغو (ددي پيغمبر بلنه) منلي ده اودهغوزړونوته دالله په يا د سره داډينه ورپه برخه کيږي . خبرداراوسئ! همدغه دالله يادهغه شي دي چي په هغه سره زړونوته داډينه وربه برخه کيږي . نوکوموکسانوچي دحق بلنه ومنله اوښه عملونه يې سرته ورسول هغوي نيکمرغه دي اودښه عاقبت خاوندان دي .

(الرعد - ۲۷ - ۲۸)

طالبان اوجنبش دجگړی حالت ته په نژدی کیدو دی

له جنرال دوستم نه یی غوښتی دی چی قیادت یوه عالم ته وسپاری

دټولو هغو تنظیمونو چی په دولت کی یی برخه نشته ، استاځی یی کابل ته بلل شوی دی

جنبش دقیادت دانتقال په باره کی دطالبانو غوښتنی نور هم حساس کړی دی

مزارشریف - دتلي ۷مه :

دطالبانو د اسلامي غورځنگ او دجنبش ملي اسلامي افغانستان ترمنځ ايکي دجگړي حالت تـه په ورنږدي کيدودي . يوي باوري منبع پرون شهادت

پاتې د ۴ مخ ۱ ستون

وروحکمتيار له بی بی سی راديو سره په مرکه کی :

مونږ همیشه په مذاکراتو ټاکید کړی ، خو دا نور دی چی دجگړی اورته لمن وهی

له کابل څخه عقب نشيني يومؤقتي او تاکتيکي په شاتگ دی

دافغانستان سياسی نمايندگی په ټولو بهرنيو ملکونو کی دسابق په شان له افغانستان څخه نمايندگی کوی اوخپل کارونه به جاری ساتی

نجيب پخوانيو کمونستو افسرانو دخپل غچ اوانتقام داخيستو په خاطر وژلی دی

کابل - دتلي ۷ مه :

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم ورور حکمتيارويلي چي : له کابل څخه ددولتي ځواکونوتل يوتاکتيکي په شاه تگ دي او دهيوادنه بهرپه داسلامي دولت ټولي سياسي نماينده گي دپخوا په شان خپلو کارونوته دوام ورکوي .

ورور حکمتيار دهيواد دورو ستيو پيښو په اړه تيره شپه له بي بي سي راډيوسره په مرکه کي دراتلونکو پلانونوپه اړه وويل : ددولت عالي شورا نن جلسه درلوده چي څو مهمي فيصلي يې کړي .

لومړي داچي کابينه به دپخوا په شان خپل کارته ادامـه ورکــوي، دوهم دافغانستان سياسي نماينده گي په ټولو بهرنيوملکونو کي دسابق په شان لــه افغانستان څخه نماينده گي کوي اوخپل کاريه جاري ساتي اودټولو سياسي ډلو سره يوځل بيا په مذاکراتو تاکيد وشو، ددي لپاره چي يوه مشترکه جبهه جوړه شي اوملك په گډه ددي بحران اودردناك حالت ته وژغورل شي .

پاتې د ۴ مخ ۲ ستون

عبدالرحيم "غفورزی" دامريکا غږ راديو سره دمرکی په ترځ کی :

نړيواله ټولنه بايد دطالبانو حکومت په رسميت ونه پيژني

دقدرت په سرکشمکش پای ته نه دی رسيدلی اوکيدای شی چی دولتی ځواکونه پرطالبانو ځوابی حملی پيل کړی

نيويارك - دتلي ۷ مه :

نړيواله ټولنه بايد دطالبانو نوي حکومت په رسميت ونه پيژني داخبري دافغانستان دبهرنيوچارو دوزارت مرستيال عبدالرحيم « غفورزي» چي نيويارك ته دملگروملتونو په غونډه کي دبرخي اخيستني لپاره تللي دي دافغانستان دوروستيو پيښوپه اړه ني ديومطبوعاتي کنفرانس په ترځ کي خـبريالانوته کړي دي .

پاتې د ۴ مخ ۲ ستون

حزب وحدت باهيچ يکي از طرف هاي درگير ائتلاف نکرده است

طالبان ناگزير اند همه اطراف ذيدخل درقضيه را شامل ساختار سياسی نمايند

عباس دلجو

پشاور - ۷ ميزان :

ماباهيچ يك ازطرف هاي درگير ائتلاف نکرده ايم .

اين مطلب را عباس دلجو سخن گو ورئيس شوراي نمايندگي حزب وحدت اسلامي درپشاور درعکس العمل بااين

بقيه درستون ۶ ، صفحه ۴ ،

هيئت پاکستانی عازم کابل شد

پشاور - ۷ ميزان :

بدنبال برسميت شناختن حکومت طالبان درکابل ازجانب پاکستان ديروز يك هيئت وزارت خارجه پاکستان روانه کابل شد .

طبق گزارش راديوي ايران رياست هيئت را عارف اياز مديرعمومي دفترمربوط به مسايل افغانستان دروزارت خارجه پاکستان بعهده دارد . وزارت خارجه پاکستان گفته است که اسلام آباد سرگرم ارزيابي وضع جديد درافغانستان است وهيئت راهم به همين منظور به کابل فرستاده است .

طبق همين گزارش نجم الدين شيخ

بقيه درستون ۵ ، صفحه ۴ ،

نه حکومت دلخواه مردم تشکيل شده ونه صلح سراسری تامين گرديده است

اگرطالبان شرايط ما را بپذيرند ما با آنها جنگ ودرگيری یی نخواهيم داشت

جنرال يوسف سخنگوی جنبش

پشاور - ۷ميزان :

جنبش ملي افغانستان جنگ را راه حل نميداند وهميشه تاکيد براين داشته که بحران افغانستان بايـد از راه مفاهمه ومذاکره حل گردد .

مطلب فوق را جنرال يوسف سخنگوي جنبش ملي درمصاحبه ئي باراديوي بي بي سي اعلان داشت . وي درپاسخ به اين سوال که فعلاً درکابل دولتي وجود دارد که تبازيه مذاکره باديگران ندارد گفت : افغانستان تنها شهرکابل نيست نيروهاي که ازشهرکابل بيرون بـر آمـده اند

بقيه درستون ۵ ، صفحه ۴ ،

دنجات ملی دجبهی مشر حضرت صبغت الله "مجددی" ديوی اعلاميی په ترځ کی :

هغه مشرتوب چی دافغانستان دمسلمان ملت لخوا وټاکل شی زمونږ دتائيد وړ دی

طالبان بايد دگذشت اوعقل نه کار واخلی اودهيواد ستونزی دی دسولی اوخبرولـه لاری حل کړی

پيښور - دتلي ۷ مه :

دافغانستان دنجات ملي جبهي مشر حضرت صبغت الله مجـددي ديوي اعلاميي په ترځ کـي ويلي دي چي دافغانستان مسلمان ملت په ديرواقعي اسلامي حکومت ترسيوري لاندي خپل حقوق ترلاسه کړي .

پاتې د ۴ مخ ۵ ستون

افراسياب " ختك " دبی بی سی راديو سره په مرکه کی :

دډاکتر نجيب په وژل کيدو سره دطالبانو اعتبار ختم شو

پيښور - دتلي ۷ مه :

پرون په پيښور کـي د افغانستان دپخواني کمونست مشر ډاکټرنجيب الله دجنازي غايبانه لمونځ وشو ، نوموړي دجمعي په ورځ په کابل کي له خپل ورور سره يوځاي دطالبانو لخوانه اعدام اوپه دارځوړند کړاي شـو ددي کارله امله يوشميرخلکوپه پيښورکي دملگروملتونو

پاتې د ۴ مخ ۵ ستون

فاطمه گيلاني خواستار اعادهٔ حقوق زنان شد

پشاور - ۷ ميزان :

اين مطلب را فاطمه گيلاني درمصاحبه ئي با راديوي بي بي سي اظهارداشت وي در ادامه گفت : که ازيك طرف زن رانمي فهمدانم که کدام اسلام گفته است که زن ازخانه خارج نشود وحق ندارد تعليم حاصل کند .

بقيه درستون ۳ ، صفحه ۴ ،

په کابل کی دطالبانو وياند اميرخان "متقی" دبی بی سی سره په مرکه کی :

مونږ په څوارلس کلن جهاد کی قربانی ددی له پاره ورکړی دی چی په دی خاوره دخدای (ج) دين حاکم شی

مونږ پرهغو سخو باندی چی شرعی عذر لری حه پابندی نه ده لگولی

کابل - دتلي ۷ مه :

دکابل ښارله نيولو وروسته دطالبانو ولي په کابل کي دچاروده‌پرمخ بيولو پخاطرپوه شپږکسيزه اداره جوړه کړي ده . پرون دطالبانو دکابل داداري دغي شپږکسيزي ولي يوه غونډه جوړه کړي وه . دپروني غونډي په اړه په کابل کي دطالبانو وياند اميرخان متقي دبي بي سي راډيو سره ديوي مرکي په ترځ کي وويل : تاسوته معلومه ده چي دافغانستان په څوارلس کلن جهاد کي چي کومي قرباني افغانانوورکړي دي اودااوس چي طالبانو کومي قرباني ورکړي دي، دابوازي ددي لپاره چي په دي خاوره باندي دخداي (ج) دين حاکم شي . ښځي يواځي دعذرله مخي دباندي وتلي شي اوهغه هم دشرعي

پاتې د ۴ مخ ۵ ستون

دحرکت تنظيم دطالبانو سره دخبرو اودراتلونکي حکومت دجوړولو په خاطر نن يو هيئت کابل ته ليږي

پيښور - دتلي ۷ مه :

دحرکت انقلاب اسلامي دتنظيم مرکزي شورا مولوي محمدنبي «محمدي» په مشري جوړه شوه .

دامريکا غږراديو دپخوپوهني خبرپه حواله ويل کيږي چي : دنوموړي تنظيم مرکزي شورا د خپلي پروني غونډي په ترځ کي پريکړه کړيده چي دطالبانو سره دخبرو اودراتلونکي حکومت دجوړولو لپاره به سبا (نن) يوهيئات کابل ته واستوي .

کابل : مردم اجساد داکتر نجيب آخرين رئيس رژيم کمونيستي و شاهپوراحمدزي برادروي را که روز جمعه در چهار راهي مقابل قصرړياست جمهوري به دار آويخته شده اند تماشا مينمايند.

عوامی نيشنل پارتی خواستار انتقال جسد داکتر نجيب به پشاور شد

پشاور :

خان عبدالولي خان رهـبر عوامي نشنل پارتي وتعدادي از سران اين گروه ازدبيرکل سازمانلل متحد خواسته اند، براي سپردن جسدنجيب الله به وارثانش تابه عوامي نشنل پارتي اقدام فوري نمايد تامراسم تدفين وي درپشاور انجام داده شود .

به گزارش روزنامه «فرانتيرپست» به همين مناسبت روز جمعه ازجانب خان عبدالولي خـان وديگرسران اين گروه به شمول اجمل ختك ، دوکترعنايت الله خان، قاضي محمدانوروبيگم نسيم ولي پيامي

بقيه درستون ۳ ، صفحه ۴ ،

دامريکا دبهرنيو چارو دوزارت سکرتر گلين ديويس ويلی :

امريکا يی مامورين اوس په دی لټه کی دی چی دطالبانو دمشرانو سره ووينی اودهغوی په پلانونو ځان خبر کړی

طالبان بايد يو داسی انتقالی حکومت جوړکړی چی دملی روغی جوړی جريان پيل شی

امريکا دطالبانو دنوی حکومت په هغو ويناوو کی چی خپلی پاليسی يی بکی نبودلی دی کوم داعتراض وړټکی نه وينی

واشنگټن - دتلي ۷ مه :

دطالبانو لخوا نه دکابل ښـار ترنيولو وروسته امريکا داسي امـيـد ښکاره کړي دي چي دطالبانو نوي حکومت بـه په افغانستان کي دملي روغي جـوړي جريان پيل کړي .

دامريکاغږراډيو دخبرپه حواله ويل کيږي چي امريکائي مامورين اوس په دي لټه کي دي چي دطالبانو له مشرانو سره ووينی اودهغوي پـه پلانونواندي ځان خبرکړي . دسپيني مـانۍ مامورينو داسي هيله ښکاره کړي ده چي په افغانستان کي به دطالبانو مشران په ملك کي سوله اوامن ټينگ کړي شي اوبي دقومي، ژبني اومذهبي توپيرنه به دافغانستان دټولو اتباعو دحقوقو درناوي وکړي .

دامريکا دبهرنيوچارو دوزارت نطاق گلين ديويس ويلي دي چي امريکائي مامورين غواړي دطالبانو سره وگوري اوپه افغانستان باندي دحکومت په باب دهغوي په پلانونو ځان خبرکړي .

پاتې د ۴ مخ ۳ ستون

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

دکابل سقوط انجام که آغاز ؟

دتیري جمعي دشپې په دوویجواوپنځه ځلویښت دقیقو په آسماني غرونو کي ددولت وروستي مرکز سقوط وکړ او دکابل ښارپه بشپړه توګه دطالبانولاسونوته ورغي ، دکابل سقوط واقعاً خلك حیران کړل .

داپه دي چي بوخو په کابل کي ددولت اودهغه دمتحدینوپه جبهه کي دطالبانو لپاره دسیاسي نفوذ او تاثیرچانس بیخي له نشت سره برابرؤ . بل ددولت دځلوروکلونوپاخه مورچلونه اوکمربندونه دطالبانو مخې ته پراته وو . ددي ترڅنګ مدافع قوتونودنظامي نظم،محاربوي تعلیم وتربیي دفاعي جګړي تجربي اوښي قوماندي خبري هم کیدي . دقوتونو اکمالات هم په اساني کیده ، هوائي جنګي چتر هم ورته برابریده اوپه دي ټولو علاوه دانجنیر احمدشاه مسعود له خوا دجګړي دمستقیمي رهبري عنصرهم خورا اغیزمن او بارز ګڼل کیده .

دچهارشنبي په ورځ چي طالبان په څرخي پله او ورنږدي سیمه کي له کومي مقابلي سره مخامخ شول، هغه دپاس یاد شویوټولو عواملواوعنصرونوافادیت او تاثیر ثابت کړ، مګردپنجشنبي په ورځ اوضاع بدله شوه اوڅرګندیده چي دکابل کمربندونه اودفاعي کرښي داخل له یوي نوي تجربي سره مخامخ شوي دي اوخاسئا به ئي نتیجه هم بدله راوځي . ددي تجربي نویوالي نور اړخونه اوعناصرهم لري چي وریاندي غزیدل ددي مقالي له حوصلي نه وتلي ده خوپه نظامي لحاظ هغه وخت باید دخطر احساس شوي واي چي کله دچهارشنبي په ورځ طالبانوشدیده ضربه وخوړه ، وسایل تري پاتي شول، درانه تلفات ئي ولیدل او مهم قوماندان ئي له لاسه ورکړ خو دپنجشنبي په سهارئي له څلپڅه پرته تریږونې شدیده حمله پیل کړه .

په هرحال دطالبانو له خوادکابل نیول په هیڅ توګه دبحران دحل په لوري دپریکنده پرمختګ معني نلري، بلکي برعکس که طالبان دانحصار دهوس له موضع نه برخوردوکړي لااوضاع پیچیده کولاي شي اوددي په ځاي چي دیوه بحران په لوري یوانجام شي، برعکس به دستونزو دتشدید اواوږدیدو لپاره یوآغازشي .

کاشکي طالبان دادرك کړاي شي چي داسلام اوافغانستان لپاره پردي هیلي څومره ناپاکي اوخطرناکي دي او دجګړي ددي سناریو چي زموږدملت په وینولیکله شوي، څومره پلانونه لادخپلولوبغاړو، وختونو اوکردارونو په طمع دي . طالبان باید په دي پوه وي چي په هیڅ توګه ممکنه نه ده چي دوي. په یواځي ځان بحران حل کړاي شي، باني حل کولوته پریښودل شي، په ټول افغانستان ددوي حکومت اصلاً له بحث نه دباندي خبره ده . شاید اوس ورته داخبره مسخره ښکاره شي . مګر باید په یادئي وي چي دي ته ورته خبري تردوي دمخه هم ډیرو « مسخري» ګڼلي وي، مګروخت اوحالاتو ورته ثابته کړه چي داخبري مسخري نه وي داواقعیتونه اوعلمي حقایق وو، مګر دقدرت اوغلبي دنشي مستي دوي ته دملتو په بڼه کي ښودلي .

اوس دالله (ج) پولوي حکمت دادي چي دپښتو بهیرخورا ګرندي دي، مرحلي ډیرژر پوره کیږي او اوړي رااوړي . ډیروخت به لاتیرنه وي چي که طالبان له په لاس ورغلیو شرایطونه معقوله او مناسبه ګټه وانخلي او داقتدار دانحصارپه ځاي دبحران دحل اوشرافتمندانه اسلامي حکومت په لټه کي نشي نودحسرت اوپښیماني لاسونه به ومروړي .

کشمکش دیدگاه هادرسیاست خارجي امریکا

اشاره : با نزدیك شدن زمان انتخابات ریاست جمهوري درایالات متحده امریکا، جناحهاي مختلف به ارائه نظرپرداخته ودیدگاههاي خود را درباره مسائل مختلف خصوصاً خاورمیانه، ابراز مي دارند. این دیدگاهها، درقالب هاي گوناگوني قابل بررسي است که نشان مي دهد. کشمکش دراین نگرش هافراوان است . مقاله اي که مي خوانید بانگاه به نظرات شخصیت هایي چون باب دال کاندیداي ریاست جمهوري - ریچاردنیکسون - ازتئوریسین هاي سیاست خارجي امریکا ، و ... تقابل این نظرات رامطرح مي سازد .

دربي فروپاشي ودگرگون شدن نظام بین الملل ، امریکا بر آن شد تاباتجدید نظردرسیاست خارجي اش طرحي نو در اندازد . بدین خاطر درسیاست خارجي امریکادید گاههاي جدید بروزکرد. محققین وسیاستمداران دسته بندي هاي مختلفي ازاین نظرات جدید ارائه داده اند. اولین تقسیم بندي از ریچارد نیکسون درکتاب « فرصت را ازدست ندهید» مي باشد. اوسه نظریه بعدازدگرگوني هاي سال ۱۹۸۹ راکه محافل بحث پیرامون آینده سیاست خارجي امریکارابه خودمشغول داشت، مطرح وردمي کند .

۱ - نظریه پایان تاریخ :

بسیاري استدلال مي کردند که شکست کمونیسم ، پیروزي دموکراسي لیبرال وپایان جنگ سرد، این تعریف سابق را که تاریخ رقابتي است مسلحانه میان ایدئولوژي هاي مخالف به خاك سپرد . طرفداران این نظریه مدعي بودند که جهان برتري اقتصاد آزاد ودولت منتخب مردم را براقتصاد مرکزي وديکتاتوري پذیرفته است، ودرآینده این رژه تکنولوژي نه رژه ارتش هاوجدال برسربازارها،نه برسرعقاید است که محورهاي پویاي تاریخ راشکل خواهد بخشید وچنین نتیجه گرفتند که زمان آن رسیده است تا امریکاافحانه به خانه بازگردد.

نیکسون عقیده دارد چنین نظریه (نظریه پایان تاریخ) رؤیایي بیش نیست . بااینکه شوروي وبسیاري ازنظامهاي کمونیستي يافروپاشیدند ویاازکمونیسم دست کشیدند ولي کمونیسم هنوز دربسیاري ازنقاط جهان حاکم است . به علاوه ازبین رفتن جنگ سرد به معناي پایان درگیري بین المللي نیست . هنوز خصومت هاوکینه ورزیهاي قومي، نژادي، ملي ویا مذهبي همه پایان نیافته اند .

۲ - نظریه بیهودگي قدرت نظامي :

این نظریه معتقد است که قدرت نظامي دیگر نمي تواند ابزار اصلي حکومت وزیربناي سیاست خارجي باشد ووابستگي متقابل بین قدرتهاي بزرگ استفاده از زور را بیهوده وبي ربط مي کند. همچنین عده اي براین باورهستند که باازبین رفتن جنگ سرد، قدرت اقتصادي وژئو ، اکونومیك ، اهمیت بیشتري یافته وقدرت نظامي وژئوپلیتیك سنتي راتحت شعاع قرارداده است، وچنین نتیجه مي گیرند که امریکاباید خودرا درزمینه کشاورزي وصنعت تقویت کند .

درنقداین نظریه نیکسون مي نویسد : اگرچه وابستگي متقابل اقتصادي، آزادي عمل کشوري را محدود مي کند امااین دلیل براین نیست که قدرت نظامي بیهوده است . به خاطر بي ثباتي درکشورهاي کمونیستي سابق، وجود برنامه هاي امنیتي وحضور نظامي امریکادراروپا براي تضمین صلح وامنیت ضروري است .

۳ - نظریه سقوط امریکا :

بسیاري مي پندارند که قدرت عظیم امریکا روبه افول است واستدلالشان کسري بودجه امریکا درتجارت خارجي وداخلي است. منطق آنهااین است که همه قدرتهاي بزرگ دوره هاي توسعه ،ثبات وسقوط راتجربه مي نمایند .

نیکسون این نظریه رانیز رد کرده ومي گوید : آنهایي که طرفدار این نظریه هستند ازاین واقعیت غافلند که امریکا جایگاه محکمي در اقتصاد جهان دارد. امریکا هنوز بالاترین درصدکل تولید رادارا مي باشد وضمن برخورداري ازقوي ترین پایگاه علمي وتکنولوژیکي ازلحاظ درآمد سرانه جزء کشورهاي رده بالا محسوب مي شود. ازطرفي دیگر دلایل سقوط قدرتهاي بزرگ صرفاً اقتصادي نبوده است ، عوامل نامرئي دیگري چون رهبري مهارت سیاسي، جاذبه ایدئولوژیکي وفرهنگي، اراده واتحاد ملي وحتي بخت واقبال دخیل هستند وامریکااین عوامل رادر اختیاردارد .

هنري کیسنجرنیز دراجلاس سالانه کلوب اقتصادي نیویورك ، ضمن بررسي تحولات بین المللي ومشکلات امریکادرجهان گفت : ما فعلاً باسه وضعیت اجتماعي روبروهستیم. (براي هریك ازاین سه وضعیت مي توان طرفداراني در داخل امریکا یافت) :

۱ - انزواگرایي، یعني اینکه امریکا خود را از جهان خارج منزوي کند ؛

۲ - تلاش درجهت اعتلاي دموکراسي، منظور این است که امریکا نه تنها درحرف، بلکه درعمل نیز به طورواقعي تلاشهاي گسترده خودرا براي توسعه و گسترش دموکراسي بسیج کند ؛

۳ - تلاش درجهت تنظیم سیاست خارجي خود، به گونه اي که نه تنها ارزشهاي معنوي ودیدگاههاي اقتصادي امریکارا تأمین کند، بلکه آنهارابه مفهوم منافع ملي کشورمرتبط سازد .

به عقیده کیسنجر، درجهان به هم وابسته کنوني کناره گیري ازصحنه سیاست جهاني براي امریکا امکان پذیرنیست . ازطرف دیگر، اعلام یك تلاش واقعي براي اعتلاي دموکراسي نیز امریکارا بیش از اندازه وبه اجبارباسایلي درگیرمي کند که باآنهاآشنا نبوده ونه ازامکانات کافي براي حل آنها برخورداراست . درحال حاضرنقش امریکا تنها اجراي سیاست خارجي خود، نه درگیرشدن درسیاست داخلي کشورهاي دیگر است وضرورتي ندارد که امریکانسبت به کشمکشهاي داخلي هرنقطهٔ ازجهان اظهار نظرکند. باب دال کاندیدجمهوري خواه در ریاست جمهوري درمجلس سناي امریکا نیز دیدگاههاي مختلفي راکه عقیده دارند امریکاباید ازمیزان دخالت خود درمسایل جهاني بکاهد وتوجه بیشتري به مسایل داخلي داشته باشد ، مورد نقد و بررسي قرارمي دهد .

پس ازشکست اتحاد شوروي ناظران متعددي توجیه کرده اند که امریکا از صحنه جهان خارج شود. طرفداران مکتب « کاهش » ادعامي کنند که امریکا نمي تواند درصحنه جهاني مداخله نماید زیرا منابع لازم براي این کاروانداردد. آنها مي گویند : ماجنگ سرد رابردیم وبه عنوان تنها قدرت جهاني مطرح هستیم ولي درمنطق منحرف طرفداران مکتب کاهش همین موضوع برشدت ضعف مامي افزاید . طرفداران این شیوه درسایرنقاط جهان نیز همفکراني دارند و به اشاعه این دیدگاه مي پردازند که امریکا باید درچهارچوب وهمراه باسازمانهاي بین المللي کارکند زیرا براي اینکه به تنهایي وازجانب خود وارد مسائل شود منابع کافي ندارد. برخي ازاین افراد معتقدند که امریکا اختیارات حقوقي واخلاقي لازم راندارد که بتواند بدون همراهي بامجازاتهاي سازمانهاي بین المللي اقدام نماید .

این دیدگاه لزوماً مربوط به دولت کنوني نمي باشد. طرفداران مکتب کاهش فعالیتهاي امریکا و همفکران خارجي آنها هم اکنون در دولت کلینتون حضورودارند ، این طرزفکربراي اولین بارتحت عنوان دکترین تارنف، توسط معاون سیاسي وزارت امور خارجه درسال ۱۹۹۳ اعلام گردید. دراین زمان تارنف استدلال کرد که امریکا باید مجدداً مواضع خودراتعیین نماید زیرامنابع، اراده وتمایل لازم براي ادامه شرایط کنوني ندارد پس ازآن دکترین هالپرین پابه عرصه وجود گذاشت . مورتون هالپرین یکي از کارشناسان کنوني شوراي امنیت ملي اظهارعقیده کرد که امریکا فقط باکسب مجوزقبلي ازمجامع بین المللي مي تواند ازارتش خود براي دفاع ازمنافع این کشوردرخارج استفاده نماید . طرفداران اندیشه حفاظت گرایي نیز حضوردارند. آنها عقیده دارند که امریکا باید درهاي خودرا درمقابل ورود مصنوعات خارجي ببندد وامیدوارباشد که دربازارهاي خارجي درمقابل تولیدات امریکا بازنماند . اما باب دال کاندید ریاست جمهوري مي نویسد : صنایع امریکا نیازي به محافظت ندارند بلکه محتاج رقابت هستند و درجایي که بازار تجاري کاملاً آزادي وجود داشته است ، تجارت امریکاباموفقیت روبه روشده واقتصاد این کشوررشد سریعي داشته است .

درنهایت برخي نیز استدلال مي کنند که امریکا نباید بامسایل جهاني درگیرشود. طرفداران مکتب انزواطلبي باهردوجناح چپ وراست دیدگاههاي مشترکي دارند. اشتراك عقیده آنهاباچپ دراین است که معتقدند امریکادنیارا به فساد خواهد کشید و « باراست» نیز دراین نکته هم راي است که جهان موجب تباهي امریکا خواهد شد. طرفداران مکتب انزواطلبي معتقدند که هیچ تهدید جدي وفوري علیه منافع حیاتي امریکاوجود ندارد. علیرغم اینکه این نکته درحال

بقیه درستون «۲» صفحه «۳»

افغانان تل په اسلامي جهاد کي دښه نوم اونښان خاوندان وو

دمحمد امیري لیکنه

که څه هم په قوم دتکبر فخرلندي پکار، اوقوم یوازي یوه وسیله ده دانسانانوپه خپلومنځوکي د پیژندګلوي لپاره خوکه دقوم نوم په یوه نیك کارکي یادیږي او یاله یوي غیرتي تاریخي حادثي سره تړلي وي، نو نه یوازي داسي کارونه اوغیرتونه یادول په کار دي ، بلکي داغیرتونه اوکارونه راژوندي کول اوهغوي ته وده ورکول هم په کاردي .

افغانان نوم لري ، او ټوله دنیا افغانان نه یوازي اوس، بلکه له ډیره پخوا څخه پیژني، د افغانانو ویاړلي اومیراني داستانونه دتاریخ په پاڼوکي دالله په فضل سره ثبت دي ...(که څه هم موږ دشاه شجاع او ببرك) نومونه هم په تاریخ کي لرو .خو ددي ناولیو نومونه دنوروغیرتي افغانانو دتوري ترسیوري لاندي پټیږي ، او دافغان قوم ته دیوه قوم په نامه د بې غیرتي ګرته نه نیول کیږي .

پدي غرنیزملك کي ډیروسترو سترو جنرالانو لکه تیز طوفانونه له سرسختوکاڼو اوځوکو سره ټکري وهلي، او دهغوي دغیرت او حوصلي، پیمانه اوجاج ئي اخیستي خوداسرسخته ولس دخداي په فضل سره ،لکه خپل کلك اودنګ غرونه ، ثابت قدمه اوپابرجاپاتي شوي ، که چیرته تاریخ ته ښه ځیرشو، نوافغانان په ټولو پااکثرو ټکرو کي حق په جانب هم وو. بلکه دانور ځوك وو چي ددوي دآزادي په حق ئي تعرض کړي و، اوددوي خاوره ئي دخپل غرض آلودو هوسونو، دخپلو آسانودپښو ترخاورو لاندي کول غوښتل، هغوي به په سپك نظردي ولس ته وکتل، چي بې شتردي اوپه غربت کي ژوند کوي، اوډیر ژر به یادتوري اویاددولت په زور له دي خاوري څخه یوپل جوړکړي ، او دوي به خاموشه کړي ، اوددي پله په تیریدو سره هغوي غوښتل دسرو زرو مرغي (بر صغیرهند) ته ځانونه ورسوي، او یا خو د اسیامرکزي دولتونوته ځان ورسوي. خو دافغانانو ددوي داکارنه دي خوښ شوي او دائي پدي ندي خوښ شوي، چي افغانانو دهغوي داکاریوستغ نظریانظرارول ګڼلي و ، چي داځکه دخداي مخلوق دي، چي دي هم مخلوق، اونظرئي دخالق په شان دي، هوا ته ګوري اوخپلي پښي په نظرنه ورځي، غواړي چي انسانان دمینیانوپه شان تریښولاندي کړي .

ځکه هغوي هغه دولت درلوده، چي نوروته هغه نه ښکاریده ، اوهغه دآزادي اوآزاده منشي دولت و، هغوي پخپلو وچوغرونو اوډبرتونوکي دغربت ژوند خوکولاي شواي، خوذلت اوغلامي ژوند یې نه شواي منلاي، داخبره دالله تعالي هم خوښه وه ، ځکه خداي انسان یوازي دخپل ځان غلام پیداکړي، اونور ئي له ټولو غلامیو خلاص کړي، نوکوم قوم که دیوه متکبر جنرال غلامي نه مني، اود هغه دتعرض په مقابل کي توري ته لاس کوي، نوالله تعالي ئي سره له غربته په لاسونو کي قوت پیداکوي ، پښي ئي ټینګوي اوعقل ئي صیقل کوي، اوبیائي په تاریخ کي لیکوي چي یوه غریب قوم سره له انتها غریبه ، یوه سوپر پاور ته دلسي ماتي ورکوي ، چي عقل ئي پاسرته راځي ، اوبیا کرار په ځاي کیني، اوبیادبي سوده انتقام په لمبوکي لیوني شي .

افغانانو ته الله هیبت اورعب ورکړي دي ، اوزه فکرکوم چي دا به دالله دهغه څه په بدل کي وي، چي دخپل زره مني ، اوزره دالله تعالي دجلوت ،معراج اووصال جایګاه دي . ډیر ځله زره هغه څه مني چي عقل هغه نه مني، عقل شاید څیني عقلي دلائل هم پیش کړي، خوزړه ئي نه قبلوي پښې ئي په هغه خوا نه اوچتیږي ، کوم خواته چي عقل دلیل پیش کوي .

اوهمداسبب دي ، چي افغانان کله دخپل زړه ومني، اوهلته دالله دعظمت نښه ورته ښکاره شي، بیا ټوله دنیا په لته (لغته وهي) ، تاج دتخت په لغته (لغه) وهي اوهمداوجه ده ، چي الله افغانان آزادمنش پیدا کړي دي .

دلته مي د مسولیناي روم قصه رایادیږي ، وایي چي دالله یونیك بنده دحج دسعادت لپاره روان شو، په یوه دښته کي ئي یوبل دخداي بنده ولید، چي ناست دي، سلام او کلام ئي سره وکړ . ناست بنده لاروي بنده ته وویل چي چیرته روان ئي ؟ هغه ورته وویل دحج لپاره روان یم ، هغه ورته وویل څه توښه لري؟ لاروي ورته وویل دادوه سره درهمه لمیځان سره لرم هغه ناست بنده ورته وویل : چي دادوه سره درهمه ماته راکړه ، اواوه ځلي (واري)زماپه شاورخواطراف وکړه ، هغه لاروي هم دخپل زړه ومنل او هغه دوه سره درهمه ئي ورکړل ، له طوافه وروسته هغه ناست بنده ورته وویل : کله چي الله تعالي هغه کور جوړکړي (اشاره یې دمکي شریفي په خواوکړه) تراوسه یوځلي هم هلته ورداخل شوي نه دي. اوکله چي الله تعالي داکوروجوړکړي (اشاره ئي دخپلي سیني خواته وکړه) تراوسه یوځلي هم له هغه وتلي نه دي.

دازه نه وایم بلکه دادافغانانو تاریخ وایي، زه به ورووسته ددي تاریخ څه یادونه وکړم ، څه ناڅه چي زه خبریم اوزما وس وي. دلته ځیره دافغان قوم درعب اوهیبت راغله ، زه دلته دیوځونورو قومونو نظراووایه دافغانانو په باره کي رانقلوم :

وائي چي هندوان له پخوانه کله چي به درمسال ته ولاړل، اوخپل عبادت به ئي ترسره کي نوله دریوشیانو به ئي آمان غوښت : دزمري له پنجو دمار له زهروڅخه او دافغانانو له انتقام څخه .

جان سي ګرفتهه دپښتنو دلوړکردار په باره کي وائي : « سخاوت ، فیاضي خوش طبعي ، ظرافت، ښه اخلاق اوپه رعب وهیبت کي افغان لکه دپاچا غوندي دي، اول به درته داسي په قهراوغرور وګوري ، چي و به دي ویروي، بیا به ناڅاپه حیاناکي سترګي درته راواړوي، چې حیران به شي.

توپك به په زمکه کیږدي دوبالي په غاړه به کیني، که په مخه درشي نوسلام پاسترې مشي به درسره وکړي، دمیلمه حفاظت به داسي کوي، چي خپل سر به وریاندي قرباني، داداسي خویونه دي ، چي دانسان په زړه کي دافغان عزت اومینه پیدا کوي .

ده په خپل کتاب (افغانستان) کي دماونت ستووت الفنستان دکتاب و کاونت آف دکنگدم آف کابل » په حواله لیکلي دي :

په افغانانو کي ځیني عیبونه هم شته : لکه بدل اخیستل، حسد کول ، لوټ ماراواکه اچول، دبل خبره ته متوټکي، ضدي اوځانته غاوره ، ولي بل طرف ته چي رګوري آزادي خوښونکي ، په دوستانه اوملګرتیا کي وفادار ، دلاس لاندي خلکو سره رحم کوي، به زړورتیا او دل آوري کي مثال نلري، فضول خرڅي نه کوي، خوپه میلمهٔ پالي کي ئي مثال نشته ، نه ویریدونکي، محنتي او بې پروادي ، عقلمند داسي دي، چي ډیر ژر دخبري ریښي ته رسیږي . په شاوخواکي چي ئي کرم قومونه په دروغ ویلو، فریب ورکولو اوپه سازشونوکي مهارت لري، افغانان دي خبروته میلان نه لري .

اوعلامه اقبال خردافغانانو په باره کي وائي :

آسیا یك پیکر آب وگل است
ملت افغان درآن پیکر دل است
ازکساداوکسادآسیا ازفساد اوفساد آسیا

اودسکندرپه باره کي وائي : چي دوه نیم ، دري ، څلور کاله دیوناني ستر جنرال سکندر اعظم پوځونه بي مخي ته پرې نښودل ، چي غوښتل یې دافغان په خاوره قدم کیږدي، اوهغته وروسیږي . هغه پخپله دافغانانو ددل آوري اوتوري اقرارهم کیږدي ، ځکه مورئي له هغه سوال کړي ؤ، چي دومره ډیره موده په دي وړوکي غرني ملك دهغه ځنډیدل څه سبب دي؟ ده مورته ولیکل : چي یوه داسي زړورقوم سره مي مقابله راغلي ده ،چي مایه ژوند کي داسي مخلوق اوقوم ندي لیدلي، اوبیو څراافغاني زلیان بې مورته ولیږل چي دازړور ځرانان وګوري .

اوداسي هم اوریدلي، چي له دي ځرانانو سره ئي دافغانستان خاوره په بوجیو کي واچوله . کله چي ئي مورله هغوي سره ملاقات وکړ، نوپه بله کوټه باخیمه کي ئي ددوي ترفرش لاندي ددوي خاوره وشیوله ، اوکله چي ئي افغانان هلته ورونته کړل، او ددوي دخپلي خاوري بوي ترسپوپموشو، نوداسي ښکاریدل چي لیوني شوي وي، په هغه خاوره ورغښتل اووراورڅجنعل اوبیا په تلوار له هغه ځایه راووتل . خپلي توري ئي ټیکوته واچولي، اوپخپلو آسانوسپاره شول، بیایي هغه

پاتې «۳» مخ «٦» ستون

چې کشور دافغانانو معطر کا
دهر بیت مصراع مې زلفې د خوبان کړي

رحمان بابا

دصلح نړۍ

هغه ورځ به بختوره وي هرگوره
چې دسپینو زړونه تور نه وي له اتوره
کرکه نه وي يو له بله محبت وي
ورورولي صلح صفا وي ښه نيت وي
مرور خلق يو بل سره پخلا شي
نه چې غوښه اوچاره هغه او داشي
بشري دوستي قايمه په جهان وي
خوښ په صلح هم کافرهم مسلمان وي
نژادي تو پير هيڅ نه وي په دنيا کښې
نه په شرق او نه په غرب نه امريکا کښې
استقلال ملي حق دهرملت وي
خو قايم په ملتو کښې اخوت وي
دا ځورنکه ساز آواز دهيواد ونو
شي بوره ارکستر ا دولسونو
دګډ ژوند اصل واساس اصلي منظوروي
جهاني عدل وانصاف صحيح دستور وي
هرملت به هر نظر کښې وي ښاغلي
که په هرنگ و آيين کښې وي راغلي
سرپټوب وي محترم په هرلباس کښې
په زري جاموکښې وي که په کرپاس کښې
داسې وساتي هرڅوك خپل مسلکونه
چې ونکړي يو له بل سره جنګونه
ټول جهان ددوستي کور وي سرترسره
دجنګ ويره شي له زړونو نه بهره
زور ترلي وي دصلح په قانون
مهارشوي مست اوښان وي دجنون
ټوپسول دويښو شرم او پيغور وي
شرمنده ذليل سرټيټي ظلم زور وي
جنګ شي هرچيرته دصلح بيرغونه
شي په شمه لار روان سياستونه
دانسان زرګي له جنګ اوجګړي تور شي
توره مانه شي اوجوړوونه څه نورشي
خو له نه وي علامه دخجالت
په خدمت خولي کيدل وي شرافت
يوله بله محبت مهرباني وي
دوالفت ، هيله اوفکر جهاني وي
زه له تاځني ځاريږم نه له مانه
که جدا هم وي زما آيين له تانه

دادب راز

چاچې دشعر او شاعر په باب ډير فکر کړي دي اوداړه يې ډيرښه پيژندلي دي هغه وايي ډير ښه شاعر هماغه دي چې ډير خود پرست وي اوبې له ځانه په بل هيڅ شي کښې فکر نه کوي .

دغه راز شاعر خپل ځان په خپل شعر کښې ښيي اومونږ گومان کرو چې زمونږ تصوير يې ايستلی دی .

شاعر ځکه په مونږ گران دی چې زمونږ دزړه خبري کوي اوزمونږ خاطرات رايادوي .

شعر دزړه غږ دی اودزړه غږ دمنطق له غږ نه ډير قوي دی .

شاعر پوهيږي چې عقل اومنطق دليل اوبرهان په مونږ باندې حاکم نه دی بلکه غرايز اواحساسات زمونږ رهبري کوي . دهمدې لامله هغه له احساس اوغريزې سره خپل تعلقات ټينګ ساتي اوله زړه سره کار لري . هغه څوك چې زړونو ته ښه ښه پيغامونه راوړي او زړونه خوشحالوي شاعر دی . هغه پيغام چې دمعشوقې له خوا عاشق ته راځي شعر دی .

شاعر له مونږ سره دعشق اومينې په کار کښې کومك کوي اوله دې نه ښه کومك بل نشته .

شاعر پوهيږي چې له ناامېدۍ نه څنګه لذت اخستل کيږي اوغم څنګه خوږوالی پيدا کوي .

شاعران لکه ماشومان ډير ښه ښه خوبونه ويني او په همدغو خوبونو دزړونو تسلي کوي .

که دغه خواږه رؤيااوښکلي تخيلات نه وي دژوندانه تحمل ډير گران دی .

څه شی چې مونږ ته ژوند خوږ اوښه ښکاره کوي دهغه شي تصور دی چې په ژوند کښې ېيځې نشته .

تاسې له شعر اوشاعر نه علمي حقايق مه غواړئ دشعر هدف حقيقت نه دی جمال دی ښکلا اوجمال لکه علم په ټينګ اساس نه دی ولاړ .

دعلم په دنيا کښې په پوهه پوهيدل خوند لري اه نه ۹۰ [illegible] اوادب کښې ابهام اوابهام مزه داروي .

دلته سر اوراز ، پرده اوحجاب کمال دی حلته تشريح ، تفصيل ، تحليل اوتجزيې ته ضرورت دی .

هغه جذبه چې دانسان په روح ډير اثر لري دسر جذبه ده .

هيڅ ښکليتوب بې پردې اوبې حجابه نه دی .

هرڅه چې مونږ خوسرو اوومروبې په مخ باندې دسر پرده پرته ده .

انسان له هغو اشعارو سره شديده علاقه لري چې ځيني برخې يې ابهام لري اومختلف تعبيرونه پکښې کيدلی شي .

په شعر کښې يوازې دغريزې رهبري کافي ده .

شاعر بايد دخپل فن په قوانينو کښې ډير تاوراتاونشي چې لطف او ښايي ياخپل معصوميت له لاسه ورنکړي .

دلوړ او عالي شعر د پيژند لومعيار يل شي نه دی له ژوند سره ارتباط دی هرڅومره چې يو ادبي اثر له ژوندانه سره ښه ارتباط ولري هماغومره ورسره علاقمندي زياته وي .

په شعر اوادب کښې ساده انشاء اله نورو سبکونو نه زيات پاينبت لري مگر ساده انشاء ، دانه ده چې ښيښې بې پيرايې وي اومختلف اجزاء ، اوعناصر پکې نه وي انشا ، چې مختلف اجزاء او عناصر پکښې داسې ويلې شوي او هغه انشاء چې گډوشوي گتشخيص اوتجزيه يې نشي کيدی ساده انشا ، ورته ويلی شو .

څنګه چې دلمر رڼا ظاهراً سپينه او يو رنګ معلوميږي مگر په حقيقت کښې له اووورنګونو څخه جوړه ده ، ساده انشا ، هم له دغسې ترکيبه پيدا کيږي . غرض دا چې په شعر او وينا کښې ساده گي ښه ده او ساده گي له ښه امتزاج ، له عالي نظم اوداجزاء ، له ښه تناسب څخه پيدا کيږي .

هغه انشاء چې ډيري قلقلي پکښې وي او ډير جلهل لري يعنې لکه رعد اوبرق داسې وي دليکونکو ، عجز اوصنم ښيي دغه راز هنر ښوړه نه نه وعمـ سو سره [illegible] ښايي ، په شعر اوادب ۲ [illegible] ساده گ [illegible] بري صنعت دي نه کيلکه توپ

[illegible]

دادب ورمې

چلونکی: محمدآصف (صميم)

لنــــوم کيــســه

دلنډې کيسې پلاټ:

د ناول په څير په لنډه کيسه کې هم پلاټ ضروري دی . دا ځکه چې دادکيسې پيښه او يا پيښو ته يو ډول فني تنظيم شوی شکل ورکوي . د پيښې دغه ترتيب کيسه په مخ بيا يي اودهغه پلاټ په څلورو ديوالونو کې بند وي ، که چيري دغه پلاټ نه وي نو د پيښو څه دکيسې عنصر ختميږي . همدا علت دی چې په پلاټ کې دوحدت اوتسلسل عنصر بې حده زيات ضروري دی . په لنډه کيسه کې پلاټ ډير مهم کار کوي . يعنې دهغه دکبله دلنډې کيسې ليکوکی دغير ضروري تفصيلاتو څخه بچ کيږي اوکيسه دابتدا څخه تر پايه پوري يوې موزونې نتيجې ته رسيږي . په دې توګه سره مرکزي خيال ديخوا ، هغه خوا نه پريږدي اوټوله کيسه دکلايمکس يعنې دعروج نقطې ته رسيږي . دلنډې کيسې پلاټ که چيري ساده وي ، نو ډير به ښه وي ، دا ځکه چې په دې توګه سره کولی شي چې کيسه ليکونکې خپله کيسه په ډيره بريالې توګه وړاندې کولی شي او دخپلو کردارو نو عمل په ځرګنده توګه مخې ته يوسي . پيچلې پلاټ نه يوازې دا چې دکردارونو په پيژند نه کې مشکلات پيدا کوي . بلکه کيسه غير طبيعي هم ګرزوي . دبلې خوا نه دلنډې کيسې دليکونکې دنظر نقطه په هغه کې ورکيږي . ځينې خلك په لنډه کيسه کې دځو کيسو کولو (بيانولو) زيار باسي . دهمدې کبله دهغو دپاره دوې دپيچلې پلاټ مخې ته ايښودلو زيار باسي .

ولې په دې کار اوعمل سره لنډه کيسه پرهارژلې کيږي ، اودکيسې وحدت اودهغې تسلسل ختميږي ، يعنې خلك پلاټ يوازې دهغې دعروج دنقطې په توګه پيژني اودهمدغه کبله دوی په دې عقيده دي چې دکيسې اختتام بايد په حيرت او استعجاب سره وشي . يعنې کيسه بايد وار دواره په يوه غير معمولي طريقه سره پای ته ورسيږي .

ولې په ډ کارسره دکيسې دغير طبيعي کولو انديښنه ده په کيسه کې ددې خبرې خيال ساتل په کار دي چې دهغې پای بايد منطقي وي .

دلنډې کيسې کردارليکنه:

